# د کښنې او نقاشۍ څه خوند واخلئ

نقاشي او کښنې ستاسو له ماشوم سره تمرکز، پنځونه او د لیکنې اړ مهارتونو ته وده ورکولو کې مرسته کوي.

د نښه کولو مختلف توکي وکاروئ - غټې رنګین قلمونه، پنسلونه، د ګیره خرېیلو څګ او د رنګ سفوف وکاروئ. په باغ کې د پیاده لارو په ډبرو د اوبو او پینټ برش کارول خوند کوي.

## د ستورو مشوره

نوښتګر ووسئ. خپل ماشوم وهڅوئ چې د مختلفو شیانو لکه د بنکو، خولونو یا خرتیو یعني وړو لښتو څخه عکسونو په نښه کړي، وکښي او سره ښخ کړي.

له مجلو څخه د خوښې عکسونه پرې کړئ او کولاژونه جوړ کړئ.



## د ورو خبرو فکر

د خپل ماشوم د هاخوا دېخوا لیکلو په اړه وغږېږئ او پوښتنه وکړئ چې دوی څه لیکلي دي. هغه شکلونه او عکسونه غوره کړئ چې د پیژندلو وړ وي او ځینې یې پخپله هم وکښئ.



### د خپلو کتاب څنګه باید جوړ کړئ

څه ته اړتیا لرئ

- یو سکرېپ (د خاطرو) کتاب
- قلمونه، رنګین قلمونه او پنسلونه
- عکسونه
- مجلې او کتلاګونه
- د ماشومانو لپاره خوندي بیاتي (قیچي)
- سرېښ (ګوند)

باید څه وکړئ

- خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې د دوی د سکرېپ کتاب مخ سینګار کړي. په ګډه پرې د هغوی نوم ولیکئ.
- د دوی د خوښې شیانو په اړه ټکي یا انځورونه اضافه کړئ، لکه خواړه، ځایونه یا لوبې، یا ستاسو د کورنۍ یا څارویو عکسونه.
- کله چې تاسو بهر یاست نو د بس او نور ټکټونه وساتئ او خپل ماشوم ته یې پرېږدئ چې سکرېپ کتاب کې یې ښخ کړي.
- خپل ماشوم ته اجازه ورکړئ چې ګلیټر، پینټ، سټیکر یا هر څه وکاروي ترڅو خپل د خاطرو کتاب خوندور او رنګین کړي.